بسم الله الرحمن الرحيم

## له حدیث شریف سره

## مه په غوسه کېږه!

**عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: جاء رجل فقال: يا رسول الله، أوصني. فقال: لا تغضب. ثم ردد مرارا فقال: لا تغضب. رواه البخاري.**

*له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي: یو سړی راغی او ویې ویل: اې د الله رسوله! ماته نصیحت وکړه. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: مه غوسه کېږه. سړي په تکرار سره دا کار وکړ (د نصیحت غوښتنه یې وکړه) او رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته همدا ویل چې «مه په غوسه کېږه».*

غضب په لغت کې د رضایت ضد دی او په اصطلاح کې د غچ په نیت د وینې په جوش راتلو ته غضب (غوسه) وایي.

پورته حدیث شریف کې لیدل کېږي، چې دغه سړی رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د دې لپاره راغی چې هغه ورته پر یوه جامع او کلي خبره نصیحت وکړي. کله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وایي چې مه غوسه کېږه، نو سړی فکر کوي چې دا به جزئي خبره وي، له همدې امله سړی خپله خبره تکراروي او بیا بیا د نصیحت غوښتنه کوي. خو کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هر وار همدا ورته وایي چې «مه په غوسه کېږه» نو سړی هم پوهیږي چې همدا جامع خبره ده. د «مه به غوسه کېږه» قول دوه لویې خبرې رانغاړي:

لومړی: د اسبابو پر چمتو کولو امر: د ښو اخلاقو، صبر او زغم تمرین کول او د خلکو د قولي او فعلي اذیت پر وړاندې زغم کول.

دویم: چې غوسه غلبه ونکړي: که څه هم په غالب ډول انسان د غوسه کېدو مخه نه شي نیولی، یعنې نه غوسه کېدل د انسان په واک کې نه دي، خو انسان د غوسې د نفوذ او غلبې مخه نیولی شي. نو پر انسان لازمه ده چې د غضب پر مهال له هغو حرامو کړنو او خبرو خپل نفس منعه کړي چې غوسه یې ترې غواړي.

کله چې یو څوک خپل نفس له غوسې د ناوړه اثر لرونکو فعلونو څخه وساتي، نو دا داسې ده لکه په حقیقت کې چې نه وي په غوسه شوی. لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې فرمایلي:

**«ليس الشديد بالصرعة، إنما الشديد الذي يملك نفسه عند الغضب.»**

*پیاوړی په مقابله او سیالۍ کې زورور شخص نه دی، بلکې پیاوړی هغه کس دی چې د غوسې پر مهال پر خپل نفس کنټرول ولري.*

غوسه دوه ډوله ده؛ یوه ناوړه او بده غوسه او بله یې ستایل شوې غوسه. ستایل شوې غوسه هغه ده چې د الله تعالی او د هغه د حرماتو په خاطر وي، یعنې د الله له حرماتو څخه پر کوم حرمت باندې د تېري او تجاوز په سبب، یا د مسلمان د قتل له امله، یا په ناحقه د مال د اخیستلو له امله او یا د نورو هغو محرماتو له امله چې د الله په دین کې ترې نهی شوې ده.

**عن عائشة رضي الله عنها قالت: "ما ضرب رسول الله صلى الله عليه وسلم شيئا قط بيده، ولا امرأة ولا خادما، إلا أن يجاهد في سبيل الله، وما نيل منه شيء قط فينتقم من صاحبه، إلا أن ينتهك شيء من محارم الله، فينتقم لله عز وجل" رواه مسلم.**

له عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی، چې وایي: « رسول الله صلی الله علیه و سلم هېڅکله کوم شی (څوک) په لاس نه دی وهلی، نه ښځه او نه خدمتګار مګر د الله تعالی په لار کې د جهاد په صورت کې. او هېڅکله یې له چا څخه ده ته د رسېدلي اذیت غچ نه دی اخیستی، مګر دا چې کوم چا د الله له محارمو څخه کوم څه تر پښو لاندې کړي وي، نو له هغه څخه یې د الله تعالی په خاطر انتقام اخیستی او جزا یې ورکړې ده.

**لیکنه: عفراء تراب**

**ژباړه: تمیم انصار**